مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخر ۲۰۱۹/۰۸/۱۸

# پاچا امان الله د انګرېزي استخباراتو په توطیو کې

## لومړی برخه

### د هېواد د خپلواکی د سلمي کلیزی په پار

دا ښکاره خبره ده چې د شاه امان الله خان پاچاهي د انګرېزي استخباراتو د توطیو له امله له منځه ولاړه، خو د پاچا په پرځولو کې انګرېزان خپل لاس لرل نه مني او اوس چې نږدې نوي کلونه تېر شوي دي بیا هم نه غواړي د امان الله خان د راپرځولو په اړه ځوک پوه شي او چا ته اجازه نه ورکوي چې د امان الله خان اړوند اسناد د دوی په آرشیفونو کې وګوري چې د بېلګې په توګه د امریکایې لیکوالې او ژورنالستې هغه خبرې چې په خپل کتاب ( اور په افغانستان کې) یې لیکلي دي وړاندې کوو:«د امان الله د قضیو په باب ټولو افغانانو یوه مفکوره درلودله، هغه دا چې برتانویانو په مشورې سره توطئه جوړه کړې وه، چې د هغه له شر ځخه ځان خلاص کړي.» نوموړې لیکواله وړاندې ځي او وایي: «کله چې زه لندن ته، د هندي دفتر کتابخانې ته ولاړم، چې د هغو وختونو اسناد مطالعه کړم، ما غوښتل چې هغه لیک ووینم، چې انګرېزانو په کې لیکلي وو: **(راځئ چې د امان الله له شر ځخه ځان خلاص کړو)** خو د ارشیف کارکوونکو اجازه رانه کړه، چې هغه اسناد وګورم ... انګرېزانو د امان الله د سقوط کنټرول په خپل لاس کې درلود.»

له بل پلوه انګرېزانو په خپلو شیطاني کړنو باندې پاچا امان الله وغولاوه، د امان الله خان نیت د خپلو خلکو او هیواد پر وړاندې پاک ؤ او هیله یې دا وه چې هیواد ودان او پرمختګ وکړي او د غربي هیوادونو په لیکه کې ودریږي، نه یوازې دا چې د پاچا نیت د خپلو هیوادوالو پر وړاندې سپیڅلی ؤ بلکه د خپلو انګرېزي دښمنانو پر وړاندې یې هم ښه نیت درلود، له بده مرغه چې پاچا په دې نه ؤ خبر چې دې ده ریفورمونه (اصلاحات) د افغانستان په شان په یوه اسلامي او سخت دریزه ټولنه کې څه ډول پایلې لري او له څه ډول هدماتي دښمن سره ښکېل او څه رنګ د خپلو دښمنانو پلانونه د خپلې پاچاهۍ د تباه کولو په خاطر پلې کوي. انګرېزانو پاچا تر هغې پورې پر ځان باوري کړی ؤ چې، که امیر ته به یو چا وویل چې د حکومت د باغي ډلو او ټپلو په روزلو، پاللو او نورو دسیسو کې د انګرېزانو پوره لاس دی نو امیر به د هغوی په خبرو باور نه کولو، پاچا په داسې حال کې چې د قبایلو له یوې ډلې سره یې د خپلو مسایلو په اړه خبرې کولې وویل:«د برتانیې د حکومت غړي زما ملګري دي او هېڅوک باید داسې خوشو خبرو ته غوږ ونه نیسي چې برتانیه د یاغیانو ملا تړ کوي.»

انګرېزانو د پاچا امان الله د پاچاهی د له منځه وړلو په موخه دننه په افغانستان او له ډیورنډ کرښې آخوا له ملایانو، غلو، لاړ وهونکو او نور ډول، ډول بدماشانو او غدارانو ځخه کار واخیست. د انګرېزي اجنټانو له جملې ځخه چې له ټولو ځخه خطرناک واقع شو، حبیب الله کلکاني (بچه سقاؤ) ؤ.

د سقاؤ زوی په لومړیو کې د کلکانو ملک محسن مزدور ؤ، ملک محسن بې سواده او جاهل سړی ؤ او د امان الله خان د کړنو مخالف ؤ، د سقاؤ زوی هم د خپل بادار په شان جاهل او نادان ؤ نوموړي په کال(۱۹۲۰، ز) کې د پوځ د نمونې په قطعه (قطعه نمونه) کې عسکري کړې وه ... سره له دې چې په یوه ښه قطعه کې عسکر ؤ، خو له بده مرغه چې د عسکرۍ په دوره کې یې هم د عادت له مخې غلاوې کولې چې یو ځل هم د کوهدامن د محلي حکومت له خوا په کال(۱۹۲۴،ز) کې بندي شوی هم ؤ... چې ورو، ورو دغه غل (د افغانستان د دښمنانو لخوا) په یوه سیاسي توطیه ګر باندې بدل شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سقاؤ زوی چې یو سوچ بې سواده ؤ، نو ځکه به یې په هر ځای کې په آزاده او بې پردې توګه خبرې کولې، د خبرو نزاکت (او د ژبې عِفت) یې نه درلود، خو مقابل لوري ته یې کتل، په خبرو کې یې مبالغه نه کوله او درواغ یې هم نه ویل، رډ او (بېباکه) سړی ؤ، چې لاندې پېښه یې ښه بېلګه ده:
قاري دوست محمد د خپلو ملګرو رپوټ د سقاؤ زوی ته ورکړ ، چې غوښتل یې د جمعې په ورځ سقاؤ ووژني، سقاؤ هغه کسان د قاري دوست محمد د راپور پر بنسټ ونیول او د اعدام امر یې پرې وکړ، خو قاري دوست محمد یې پورې واهه او ویې ویل: **«ای دؤس(دیوث) با رفقای خود خیانت کردی، اعدامش کنید!»**
هغه مهال چې د سقاؤ زوی د ډیورنډ له کرښې څخه اوښتی ؤ د انګریزانو له استخبباراتو سره یې اړیکې درلودلې او هلته یې له خواجه بابوخان چې د انګریزانو له استخباراتو (سي، ای، ډي) سره یې کار کولو لیدنه وکړه ... .
د سقاؤ زوی د کورمې په پاړه چنار کې [د هغه وخت د انګرېزي حکومت له خوا] د غلا پر جرم، په یوولسو میاشتو بند محکوم شو، خو ډېر زر په مرموزه توګه، له بند څخه خوشی شو،[په ټوله نړۍ کې له بندیخانې څخه د یو سیاسي محکوم بندي خوشي کول، یوازې د استخباراتو واک دی، تر څو د خپلو موخو لپاره یې وکاروي، په دې بنسټ ویلې شو چې له بند څخه د سقاؤ زوی خوشي کول، د انګریزانو د استخباراتو لخوا ترسره شوي دي.] او افغانستان ته راستون شو دا هغه وخت ؤ چې د کابل په ختیځ کې د ناآرامیو لومړنۍ مرحلې مخ په پېل کېدو وې.
سقاؤ د انګریزانو د استخباراتو له خوا په نامخامخ توګه، د څو تنو ملایانو له لوري وهڅول شو، تر څو امیرامان الله خان ترور کړي او یا د حکومت پر وړاندې جګړه وکړي، په دې اړه سقاؤ، وروسته له هغې چې واک ته ورسید، د خپلو تېروحالاتو په تړاؤ یې حاضرینو ته داسې وویل:«... د بېرته راتلو په وخت کې د پدیکوټ کلي ته ورسیدم، د جمعې ورځ وه مسجد ته ولاړم چې یوه ملا د منبر څخه د کفر پر وړاندې د جهاد وعظ کاوه، نو کله چې د ده خبرې پای ته ورسیدلې، نو زه ورغلم او له ده څخه مې د خیر د دعا غوښتنه وکړه، ملا دعا راته وکړه او ویې ویل:«د جومات څخه په وتلو سره د لارې په سر کې به یوه ونه ووینې، د هغې ونې لاندې ځمکه وکینده او هر څه دې چې وموندل له ځان سره یې واخله.»
د سقاؤ زوی زیاتوي چې ما په بیړې سره هغه کار وکړ، چې ځلور ټوپک، کارتوس او زر نقدې روپۍ مې ترلاسه کړې او له ځان سره مې واخیستې، کله چې له لغمان څخه د کوه دامن پر لوري روان وم، یو ځل بیا په لاره کې د یو ملا سره مخامخ شوم او د امان الله پر وړاندې یې د جهاد امر راته وکړ، د پغمان د جشن په ورځو کې چې امان الله د پغمان د ننه په تیاتر کې ؤ. ورپسې د یو بل ملا سره مخ شوم، چې ماته یې د اسلام د دین پر بنسټ، حکم وکړ چې، امان الله ووژنم، خو د دې لپاره چې د مسلمانانو جشن خراب نه شي دا کار مې ونه کړ، کله چې کوه دامن ته وګرځیدم یو بل ملا ولیدلم چې د پغمان ملا غوښتنه یې تکرار کړه، زه تګاب ته ولاړم (چې غلام محمد خان د تګاب فرقه مشر ؤ)، وروسته د تګاب اخون زاده صاحب ملا حمید الله خان وروغوښتم او د امان الله خان د وژلو له پاره یې لاره راوښودله او ځینې د پروان خانان یې زما د مرستې لپاره راوغوښتل او ما هم د هغه (امان الله خان) د راغورځولو هوډ وکړ او په کابل باندې مې حمله پېل کړه.
دا شان د سقاؤ د مورال د لوړولو په خاطر د خیبر په دره، د سلیمان په سرای کې یوه ملا یو تعویذ ورکړی ؤ او په هغه کې لیکل شوي وو: «خیر دی چې له قانوني[د ښو خلکو] کسانو سره دې بې رحمانه رویه کړې ده، د خدای نظر به پر تا باندې وي» هغه تعویذ د نظر بندی[تبغ بندۍ] ؤ.
وروسته له هغې چې سقاؤ له پېښور او کرَمې څخه شمالي ته ورسید، په کاپیسا او پروان کې یې د غلو ډله جوړه کړه او په غلاوو او لاروهلو یې پیل وکړ، دوی به د شپې له خوا غلاوې کولې او د ورځې به په غرونو کې پټیدل... د سقاؤ د زوی داړامارانو هغه کاروانونه لوټول، چې تجارتي مالونه به یې وړل راوړل او د ګمرک مقاماتو ته به یې د لوټ شویو مالونو رسیدونه ورکول... ترهغې چې د سقاؤ زوی دوه تنه هندي تجاران وتښتول او د هغوی کورنۍ یې اړې کړلې چې د هغوی د خوشي کیدو په خاطر شپږ زره روپۍ ورکړي.
د سقاؤ د زوی کار تر هغه ځایه ورسید چې یوه اندازه د دولت پیسې چې د بلخ ولایت څخه کابل ته راوړل کیدلې، لاره یې ورته ونیوله او د دولت خزانه یې لوټ کړه، خو د ځایي حکومت له خوا تعقیب نه شو... .
د سقاؤ زوی د کابل په شمال کې امنیتي وضع خرابه کړې وه، نو د کوهدامن خلکو نوموړی یوازې یو یاغي نه بلکه د یوه اتل او خپل رهبر په توګه پېژندلو ... ځکه چې د دوی ډېری کسان د ده په شان غله او لاره وهونکي وو.)
له بده مرغه چې حکومت د سقاؤ سره د پکتیا د ګوډ ملا(عبدالله ګردیزی) او ملاعبدالرشید په شان جګړه ونه کړه، چې په نطفه کې یې د هغه فعالیتونه شنډ کړي وو، بلکه پرعکس د سقاؤ سره یې د روغې جوړې لاره غوره کړه، سره له دې چې د سقاؤ زوی، نه د ګوډ ملا په شان دیني عالم ؤ، نه په خپله ژمنه ولاړ او نه خو د قرآن په ژمنه تړلی ؤ. د سقاؤ د زوی فعالیتونه ورو په ورو مخ پر زیاتیدو شول نو کله چې نوموړي د دولت کمزوري ولیدله، څو تنه د دولت عسکر، چې کابل ته روان وو، په یوه ناڅاپي برید کې ووژل، احمدعلي خان چې د تنظیمیه رئیس ؤ او د سقاؤ سره د روغې جوړې په خبرو بوخت ؤ، له مرکز کابل سره یې پېښه شریکه کړه او په اړه یې واک ترلاسه کړ تر څو له سقاؤ سره روغه وکړي... رئیس احمدعلي خان یوازې له دوه تنو ساتونکو سره د سقاؤ زوی ته ورغلو او په نتیجه کې یې له حبیب الله سقاؤ او سیدحسین سره د قرآن په لمن لیک کې یو تړون لاسلیک کړ، په تړون کې د سقاؤ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زوی ومنله چې له مخالفت او شرارت څخه به لاس اخلي، له بلې خوا دولت هم ومنله چې د سقاؤ او ملګرو جرمونه به یې ببښل کیږي، احمدعلي خان د یو بې ساري تړون سره یو ځای، د سقاؤ زوی او سید حسین له ځانه سره سرای خواجه ته راوستل او د دفاع وزیر ته یې خبر ورکړ چې (۸۲) توپک، مرمۍ، تنخوا او د غونډ مشرۍ(ډګروالۍ) رتبې دې دواړو سقاؤ او سیدحسین ته ورکړل شي. امان الله خان د دفاع وزارت، مالیې وزارت او د تنظیمیه رئیس احمدعلي خان په عنوانونو فرمانونه صادر کړل او د احمدعلي خان او غلو تر منځ تړون یې تصدیق او پلی کړ،(۸۲ میله ۳۰۳، بورد توپک) (۱۶۴۰)ګدی مرمۍ او د کال درې، درې زره افغانۍ دواړو غلو ته او (۳۶۰) افغانۍ یې د دوی هر یوه غله ته وټاکلې...

د لومړۍ برخې پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ